# ثوک چې مړ شي پداسې حال کې چې هغه د الله جل جلاله سره شریک رابلي، اور ته به داخل شي

د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه څخه روایت دی چې وایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم یوه خبره وکړه او ما بله وکړه، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «مَنْ مَاتَ وَهُوَ يَدْعُو مِنْ دُونِ اللهِ نِدًّا دَخَلَ النَّارَ» وَقُلْتُ أَنَا: مَنْ مَاتَ وَهُوَ لَا يَدْعُو لِلهِ نِدًّا دَخَلَ الْجَنَّةَ. « ثوک چې مړ شي پداسې حال کې چې هغه د الله جل جلاله سره شریک رابلي، اور ته به داخل شي» او ما وویل: ثوک چې مړ شو پداسې حال کې چې د الله جل جلاله سره بل شریک نه رابلي، جنت ته به داخل شي.
[(صحيح] [متفق علیه دی ( بخاري اومسلم دواړو روایت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم مونږ ته خبر راکوي چې چا له الله جل جلاله پرته د بل چا لپاره یو عمل تر سره کړ، پداسې حال کې چې باید الله جل جلاله ته یې تر سره کړي، لکه له الله پرته د بل چا رابلل، او یا له هغه پرته پر بل چا مرسته غوښتل او بیا پر همدې عمل مړ شي نو دی به له دوزخیانو څخه وي. او ابن مسعود رضي الله عنه زیاتوي چې ثوک مړ شو، پداسې حال کې چې له الله جل جلاله سره یې شریک نه و راببللی، نو ورتګ یې جنت ته دی.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3419